سردارمحمد همدرد

۲۰۱۷/۱۰/۰۹

# نوې ستراتیژي، یو چانس!

د طالبانو د حکومت د ړنګیدو وروسته د ملګرو ملتو او ناتو په همکارۍ نوی حکومت جوړ سو د نږئ شاوخوا ۴۰ هیوادونو په نظامي او مالي برخه کي پراخي مرستي وکړي ددې ټولو مرستو سره سره افغانستان په خپلو پښو ونه دریده د نړیوالي ټولني سره اړیکي خرابي سوې په ډیرو ولایتونو کي ولسوالۍ سقوط سوې او د ډیر ولایتونومرکزونه تر تهدید لاندي سول کله چي د نړیوالي ټولني په ځانګړي ډول د امریکا سره اړیکي بیا د سره ورغول سوې پاکستان چي د ۱۵ کلونو د جګړې لوی حامي و د ربښتیا میدان ته ودریدی دا چي تیر حکومت خپل په خارجي سیاست کي په دې ونه توانید چي د پاکستان اصلي او د وحشته ډکه څیره بربنډه کړي.

تیر حکومت د خپل ناکامه بهرني سیاست تر څنګ په پراخ اداري فساد شکیل وو اونه په دې وتوانید چي د نړیوالو مرستو څخه داساسي هیواد دجوړوني لپاره کار وکړي ددې ټولوسره سره افغانستان یو ځل بیا دا تاریخي چانس پیداکړ چي دا کنډ اوکړ کینتې یوځل بیا ورغوي او تر ساحله یې ورسوي او تیرو تیروتنو نه عبرت واخلي او ددې وطن پر بنسټیزوارقامو کار وکړي،اداري فساد له منځه یوسي ددې هیواد ملي وحدت یقیني کړي ولسواکی او دبیان ازادی ته پرمختګ ورکړي ملي امنیتي ځواکونه په بشپړه ډول ورغوي بهرني پالیسي د افغانستان دملي ګټو پراساس جوړه کړو د دوامداره سولي لپاره هڅي پیل کړو تر څو دغه تاریخي فرصیت څخه ګټه پورته کړو د افغانستان دجګړې اصلي ستونزه د څنګ لورو او په ځانګړي ډول له پاکستان څخه په داسي حالاتو کي افغانستان و بهرنیو مرستو ته سخته اړتیا لري زه په لومړي ځل د یوې میاشتي راهسي په هلمند ولایت کي د یو دولتي مامو په حیث ټاکل سوی یم زه چي کله د تیرو ۱۵ کلنو د وخت د مسؤلینو ناوړه کړني چي تکرار سوي دي د یو افغان په صفت په دې اعتراف کوم چي په دې وطن کي د احساس او وطن دوستی په روحیه او په خاص ډول ددې وطن دمالیکینو په حیث داسي چلند نه دی کړی چي پر خپله خاوره اوخپل ملت یې زړه سوځولای وای.

دتیرو کلنو د قربانیو په برخه کي یوازي امنیتي ځواکونو سر ښندني او فداکاري د قدرور دي په دې هم باید اعتراف وکړو چه د ملي وحدت د حکومت د مشرانو هڅه او زیار وو چي د نړیوالي ټولني باور یوځل بیاجوړ کړي په نوي ستراتیژیکي افغانستان یوځل بیا د جوړوني او رغووني چانس پیداکړاو که خدای ناخواسته دا چانس له لاسه ورکړو ددې مظلوم ملت په وړاندي به تاریخي اشتبا وکړو که پر تیرو ستونزو د سره کتنه ونه کړو چي ترټولو لویه ستونزه پراخ اداري فساد وو زه پرتوله افغانستان نه ړغیږم خو دهلمند په اړه دومره ویلای سم چي د پخوا په پرتله ځیني اصلاحات راغلي دي د مثال په توګه هغه ریاستونه چه ۱۵ کاله کي به یو ریس چي مسلکي به هم نه وو دریاست چاري به یې مخته وړلي تغیر او تبدیل یې ناممکن و اوس تکړه ځوانان په هغه برخه کي د ازادي سیالۍ له لا ري پر دندو ګمارل سوي دي او ددې تر څنګ د ملی وحدت د حکومت نه مخکي په هلمند کي تر ۳۰ زره ډیري رهایشي نمرې او د زرو شاوخوا تجارتي مارکیټونه پردولتي ځمکو باندي توضیح سوي دي.

چي ددوې څخه ۱۰سلنه د اصولو له مخي مستحقینو ته ندي رسدلي د ملي وحدت د حکومت دراتګ سره یوه لویشت دولتي ځمکه نه ده خرڅه سوې او بله خبره داده چي پخوا به د ولسوالانو او ریسانوپه مقرریوکي معلومي پیسي اخیستل کیدي زه اوس په ډیر جرأت سره دا خبره کوم چي دغه ناوړه کړنه به هیڅ صورت ترسره نه سي زه د خپل ځان په اړه وایم چي زه کله دهلمند ولایت د مرستیالي لپاره ټاکل کیدم نه مي چاته واسطه کړې او نه مي چاته پیسي ورکړي او دا هم د حکومت غوښتنه وه.

یوه خبره باید ډیره واضع وکړو چي اراده رامنځته سوي ده زه یوه بیلګه وړاندي کوم چي په محکمه او څارنوالی کي چي پخوا علني فساد وه اوس ۸۰ سلنه اصلاحات راغلي دي زه د مدني ټولني له ادرسه راغلی یم فکر اوذهن مي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

اوس هم مدني دی اوپه ډېر جرأت سره وایم کله چي په لومړۍ ورځ مي هم دا خبره کړي وه چي هيڅ کله به فساد ونه کړو اونه هم د فاسد سره پر لاره ولاړسو اونه به پر دې اولس باداري وکړو ارمان مودا دی چي دبښي حکومتداری اجتماعي عدالت او ريښتني خدمت ګارۍ پربنياد ولس ته حکومتداري ولس ته دخدمت په حيث معرفی کړو نه د بربريت او وحشت په توګه.

يوشی به هم ولس ته واضح کړم که چيري بيا د ولس پر سر معامله او په سترګو کي يې خاوري اچول کيږي ترتولو لومړی مامور به زه يم چي درسنيو په مخکي به استعفا کوم چي په دې نظام کي اراده نسته اوس هم زموږ د کارپه وړاندي زړه مافيا خنډ ده چي هغه دګوتو په شمار دي مرکزي حکومت به يا د ګوتو په شمار کسانو څنګ ته دريږي اويابه دلوی اکثريت اولس شاته هلمند اوس هم په اداري برخه کي کاپي تغيراتو ته ضرورت لري. عمومي خبره مي دنوي ستراتيژۍ کوله چي د وطن په جوړونه کي يوازي ولسمشر مسؤليت نه لري بلکي هغه کسان ډېر مسؤليت لري چي ولسمشر وربا‌ندي باورکوي زه ديو افغان په صفت پر ټولوافغانانو دا ږغ کوم راځئ چي په ګډه ددې وطن لپاره کار وکړودا ځوريدلی اولس د جګړي خلاص او په نس موړ کړو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ